# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري ځرګندويه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

سه شنبه ۵ تله ۱۴۰۱ هـ ش | ۱ ربيع الاول ۱۴۴۴ هـ ق | ۲۷ سپتمبر ۲۰۲۲ م | مسلسله شمېره (۱۷)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي ، نو د نړۍ ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام ، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.
تفسير کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې اداري معاون د يوه پلاوي په مشرۍ د هيواد پنځو ولايتونو ته سفر وکړ

د سترې محکمې اداري معاون محترم شيخ عبدالمالک حقاني حفظه الله د سترې محکمې د نظامي محاکمو د معاون او د نظامي منسوبينو ديوان د رئيس محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب په ملتيا د قضائيه قوې اړوند چارو د چټکتيا او اغېزمنتوب رامنځته کولو په موخه د هيواد پنځو ولايتونو(لوګر، پکتيا، خوست، پکتيکا او غزني) تـه سفر وکړ.

د سترې محکمې اداري معاون او ورسره مل پلاوي يادو ولايتونو ته د دغه سفر پر مهال چې په ۱۴۴۴/۲/۵ هـ ق نېټه پيل او تر ۱۴۴۴/۲/۱۱ هـ ق نېټې يې دوام درلود، د ولايتونو د استيناف او ښاري محاکمو له رئيسانو، قضائي کارکوونکو او نورو ولايتي ادارو له مسؤولينو سره وکتل.

محترم شيخ عبدالمالک حقاني صاحب له يادو مسؤولينو سره د ليدنې پر مهال د اړوند مهمو قضائي موضوعاتو په اړه تفصيلي خبرې وکړې.

دغه راز د سترې محکمې اداري معاون او ورسره مل پلاوي د اسلامي امارت د مشرتابه د فرمان په اساس له علماوو سره تر مشورې وروسته په ياد هر ولايت کې د نوې جوړې شوې محکمې لپاره دوه ــ دوه جيد علماء کرام د قاضي او مفتي محرر په توګه انتخاب کړل.

د يادو ولايتونو د محاکمو د ښه انسجام لپاره يې اړوند مسؤولينو ته لازمې توصيې وکړې او د موضوعاتو د حل او فصل په باره کې يې د شرعي اساساتو پر بناءء د عاجلو اقداماتو غوښتنه وکړه.

په دې سربېره د سترې محکمې د اداري معاون په مشرۍ دغه پلاوي د ولايتي محاکمو مسؤولينو ته سپارښتنه وکړه چې له مراجعينو سره ښه او بېطرفه چلند وکړي، د امنيت د لا ښه ټينګښت په برخه کې لازم تدابير ونيول شول او د تعميراتو تخنيکي وسايلو او انتقالي وسايلو په اړه معلومات ترلاسه شول.

بايد وويل شي چې د اسلامي امارت د مشرتابه د حکم له مخې چې د سترې محکمې د عالي مقام لخوا تصويب شوی، د هيواد ډېرى ولايتونو ته د محاکمو نوي تشکيلونه انتخاب شول، چې په هر ولايت کې به دوه باصلاحيته متدين، امانتداره او ښه سابقه لرونکي جيد علماء کرام ټاکل کېږي، تر څو د تېرې اداري پر مهال شوې پرېکړې د شريعت په رڼا کې تر ښه غورلاندې ونيسي، که د شريعت د اصولو خلاف وې نقض او که د تاييد وړ وې تاييد يې کړي، له يادو دوو کسانو يو به د قاضي او دويم به د مفتي محرر په حيث ټاکل کېږي.

**لوګر ولايت ته سفر:**

د سترې محکمې اداري معاون محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) حفظه الله او ورسره مل پلاوي لوګر ولايت تـه سفر کړ.

د سترې محکمې اداري معاون او ورسره مل پلاوي د دغه سفر پر مهال د لوګر د استيناف او ښاري محاکمو له رئيسانو او قضائي کارکوونکو سره وکتل.

محترم شيخ عبدالمالک حقاني صاحب له يادو مسؤولينو سره د ليدنې پر محال د اړوند مهمو قضائي موضوعاتو په تړاو تفصيلي خبرې وکړې.

دغه راز د سترې محکمې اداري معاون له علماوو سره تر مشورې وروسته په لوګر ولايت کې د نوې جوړې شوې محکمې لپاره دوه جيد علماء کرام د قاضي او مفتي محرر په توګه انتخاب کړل.

نوموړي د لوګر د محاکمو د ښه انسجام لپاره اړوند مسؤولينو ته لازمې توصيې وکړې او د موضوعاتو د حل او فصل په باره کې يې د شرعي اساساتو پر بناء د عاجلو اقداماتو غوښتنه وکړه.

په دې سربېره په ياده ناسته کې له مراجعينو سره د ښه او بې طرفه چلند سپارښتنه وشوه، د امنيت د لا ښه ټينګښت په برخه کې لازم تدابير ونيول شول او د تعميراتو تخنيکي وسايلو او انتقالي وسايلو په اړه معلومات واخيستل شول.

**پکتيا ولايت ته سفر**

د سترې محکمې اداري معاون محترم شيخ عبدالمالک (حقاني) حفظه الله او ورسره مل پلاوي پکتيا ولايت تـه سفر وکړ.

ياد پلاوي د دغه سفر پر مهال د پکتيا ولايت د استيناف او ښاري محکمې له رئيسانو، قضاتو، محترم مرستيال والي، د قول اردو قوماندان او مستوفيت له معاون سره وکتل.

په ياده ليدنه کې د سترې محکمې محترم اداري معاون د مسؤولينو او ادارو ترمنځ پر قوي همغږۍ او همکارۍ ټينګار وکړ، د ناستې ګډونوالو د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ.

د سترې محکمې محترم اداري معاون او ورسره مل پلاوي د پکتيا ولايت د نظامي محکمې د قضاياوو د حل او فصل او پرمختګونو په اړه يې له مسؤولينو څخه معلومات واخيستل، د دوی ستونزې يې واورېدې او د حل لپاره يې ګډه ناسته وکړه.

دغه راز د سترې محکمې ياد پلاوي د اسلامي امارت د مشرتابه د فرمان مطابق دوه تنه جيد علماء کرام او متخصصين د نوې محکمې لپاره انتخاب کړل.

**خوست ولايت ته سفر:**

نوموړی هيئت د خوست ولايت د استيناف او شهري محکمو د رئيسانو او قضائي غړو سره تر لازمو مشورو وروسته دوه تنه جيد متدين علماء د نوې محکمې لپاره د مشرتابه محترم عالي مقام د فرمان مطابق انتخاب کړل او د علماؤ د شورى د رئيس صاحب سره هم لازمې مشورې وشوې چې د شريعت د تنفيذ او د ښه عدالت د تأمين ژمنې وشوې .

دغه راز ياد پلاوي خوست ته د خپل سفر پر مهال د شيخ زاهد له پوهنتون څخه ليدنه وکړه، چې تقريبا ۱۳ پوهنځي لري او تر (۱۸۰۰) زيات محصلين په کې په زده کړو بوخت دي چې له دې جملې څخه شاوخوا ٤۰۰ ښځې محصلينې دي.

ياد پلاوي د شيخ زاهد پوهنتون له رئيس سره ښې ګټورې خبرې وکړې او دوی ته يې توصيه وکړه چې محصلين په ښه طريقه و روزي تر څو د راتلونکي لپاره د اولس خدمتګار، پر وطن مين، ديندراه او با استعداده ظرفيتونه ترې جوړ شي.

دغه راز ياد پلاوي د خليفه انورصاحب د مدرسې له استادانو سره ليدنه وکړه، په دې ليدنه کې لازمې مشورې او توصيې وشوې.

**پکتيکا ولايت ته سفر:**

د سترې محکمې ياد پلاوي پکتيکا ولايت ته د سفر پر مهال د دغه ولايت د مرکز څخه دوه جيد ملکي متدين علماء د نوې محکمې لپاره انتخاب کړل، د نوموړي ولايت د استيناف رئيس، ښاري محکمې د رئيس او قضاتو سره يې لازمې ګټورې مشورې وکړې.

دغه راز يې د خلکو د مشکلاتو د حل لپاره د ولايتي محاکمو مسؤولينو ته ګټورې توصيې وکړې، چې د خپلو مظلومو اولسونو لپاره په هر قيمت خدمتګار جوړ شي، خلکو ته د ارامه ژوند زمينه برابره کړي، څوک او چا چې اسلامي الهي عدالت نه شو زغملای، زموږ د اولسونو شتمني او نظام يې د تباهۍ سره مخ کړی و او لا يې کوي، غواړي چې معاصر جهالت ته ترويج ورکړي، يو منظم سپېڅلي اسلامي افغانستان ته په مختلفو طريقو خنډونه جوړکړي ، زموږ اند دا دی که انسانان د انسان (عبد)، کــرامت او بشريت تعريف او د اسلام له نظــره دا هر څه وپېژني هيڅ مشکل به نه وي.

**غزني ولايت ته سفر :**

ياد پلاوي غزني ولايت ته د سفر پر مهال د دغه ولايت د نظامي، استيناف او ښاري محاکمو له رئيسانو او مسؤولينو سره مجلسونه وکړل، استهدااَت يې ځواب کړل، ضرورتونه يې واورېدل، د قضائي کارونو ګزارشات او د مراجعينو سره د ښه سلوک معلومات يې وکړل، د پوره او ډاډمن امنيت ارزيابي يې وکړه او د نوې محکمې لپاره يې دوه جيد علماء انتخاب کړل.

## گزارش سفر هیئت ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان به زون شمال و شمال شرق

**در ولايت بدخشان:**

به تاريخ ١٤٤٤/٢/٨ هـ ق هيئت از جانب ستره محكمهٔ امارت اسلامی افغانستان به رياست محترم مفتی حزب الله «ابراهيمی» رئيس عمومی تدقيق و مطالعات ستره محكمه با معيتی محترم مولوی سيف الله آغا سرپرست رياست عمومی منابع بشری، محترم حافظ مولوی حمدالله مدقق قضائی رياست تدقيق و مطالعات و حافظ نصيراحمد رئيس ارتقاء ظرفيت و ارزيابی اجراآت عازم ولايت بدخشان گرديدند.

در اين سفر ابتداءً مجلس تعارفی با مسؤولان و كارمندان آن رياست برگزار گرديد؛ سپس روی مشكلات و تشكيل بحث صورت گرفت و در اخير محترم مفتی حزب الله (ابراهيمی) رئيس عمومی تدقيق و مطالعات ستره محكمه توصيه‌ها و رهنمودهای لازم را ارائه نمود.

بعداً از تعداد ١٤٠ تن از متقاضيان وعلماء كرام كه خود را برای احراز بست‌های قضائی رياست محكمه مرافعه بدخشان و ولسوالی‌های آن ولايت كانديد نموده بودند امتحان اخذ گرديد تا كار به اهل آن سپرده شود و فاصله بين اهالی ولايت بدخشان با امارت اسلامی خصوصاً قوه قضائيه از بين برود.

در ادامه ارزيابی اجراآت آمريت تحريرات و مديريت اجرائيه رياست محكمه مرافعه ولايت بدخشان در موارد چون صادره، وارده، پيشنهاد، استعلام، عريضه و ابلاغيه، اخذ گذارشات و مشكلات شان توسط حافظ نصير احمد رئيس ارتقاء ظرفيت و ارزيابی صورت گرفت.

پاتې برخه ۲

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۱**

**نېټه: ۱۴۴۴/۱/۳۰ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو تـه!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئيس الشيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي ديوانونو د محترمو رئيسانو او د مرکزي قضائي رياستونو د رئيسانو صاحبانو په ګډون په تاريخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د اسد مياشتې دولسمي نېټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصويب نمبر (۳)مورخ ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق په توسط د بعضې موضوعاتو په باره کې پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شريک شي، په همدغه اساس ياد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شريک شوه چې يوولسمه موضوع داسې وه:

((کله چې د اسلامي امارت په محاکمو کې د يوې موضوع په اړه فيصله نهائي شي او يو جانب تجديد نظر وغواړي، په دې صورت کې د تجديد نظر غوښتلو موده څومره ده او چا تـه بـه د تجديد نظر عريضه کوي؟ چې په اړه يې د مشرتابه محترم عالي مقام څخه د هدايت غوښتونکي يو.))

په اړه يې د مشرتابه محترم عالي مقام د يوولسمې فيصلې په اساس داسې هدايت وکړ:

((کله چې د اسلامي امارت په محاکمو کې يوه فيصله نهائي شي د تميز تر ابلاغ وروسته دې د درو(۳) ورځو په موده کې تطبيق شي.

که چيرې د قضيې يو جانب پر نهائي شوې فيصله تجديد نظر وغواړي نو تر ابلاغ وروسته د درو(۳) ورځو په موده کې دې د سترې محکمې د دارالانشاء رياست ته د تجديد نظر غوښتلو عريضه وړاندې کړي، دارالانشاء رياست به د تجديد نظر غوښتونکي کس څخه د استعلام په توسط د تجديد نظر دلائل غواړي تر هغه وروسته به موضوع د عالي شورا په مجلس کې مطرح کړي تر څو په نتيجه کې دا معلومه شي چې موضوع قابل د تجديد نظر ده او که نه؟

ستره محکمه دې د تجديد نظر موضوعاتو کتلو ته حق د اولويت ورکړي او په يوه مياشت کې دې فارغه کړي.

او که د نهائي فيصلې قانع جانب د نهائي فيصلې تطبيق وغوښتې په دې صورت کې به د تميز عالي رياست د اجراء امر ورکړي خو د فيصلې اجراء به تر درو(۳) ورځو وځنډوي او د مشرتابه محترم مقام د عرائضو د دفتر او د سترې محکمې د دارالانشاء رياست څخه

پاتې برخه ۲

**رسول الله ﷺ په مدينه منوره کې خپله د قضاء چارې سمبالولې**

په مدينه منوره کې د مسلمانانو لپاره له رسول الله ﷺ پرته بل قاضي نه و، ځکه د قضاء ټولې چارې په خپله د رسول الله ﷺ په غاړه وې، ځينې وختونه به يې په خپل شتون کې يو صحابي د قاضي په توګه وټاکه، دا د دې لپاره چې هغوی ته به يې د خلکو ترمنځ د قضاء طريقه او اصول ور ښودل، ترڅو د رسول الله ﷺ په نشتون، او تر رحلت وروسته په همدې طريقه تګ وکړي، او يا به يې دغه کار دوی ته د تمرين او ازموينې په پار کاوه، مخکې له دې چې دوی بېلا بېلو ښارونو ته د قضاء د منصب لپاره ولېږي، بايد هرڅه يې په عملي توګه زده کړي وي.

اخذليک: تتمة النظام، ۳۰ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## گزارش سفر هیئت ستره محکمه امارت اسلامی...

همچنان ارزیابی اجراآت تحریرات دیوان مدنی محکمه شهری ولایت بدخشان در موارد پارچهٔ ابلاغیه، اندراج حقوقی، فیصله و سوابق فیصله ها، قرارهای قضائی و مکاتیب نیز صورت گرفت.

در اخیر ارزیابی موارد‌های لازم همچون رهنمود مراسلات اداری، رهنمود کتاب های صادره و وارده، دفترصادره، عریضه، پارچه ابلاغ، جلب، ورق فیصله، عریضه و ضمیمه به سه نوع جهت انجام کارهای اداری که توسط ریاست محترم ارتقاء ظرفیت و ارزیابی اجراآت تهیه گردیده بود برای شان تسلیم گردید.

**سفر به ولایت تخار:**

به تاریخ ۱۴۴۴/۲/۱۱ هـ ق هیئت از جانب ستره محکمه امارت اسلامی به ریاست محترم مفتی حزب الله «ابراهیمی» رئیس عمومی تدقیق و مطالعات ستره محکمه با معیتی محترم مولوی سیف الله آغا سرپرست ریاست عمومی منابع بشری، حافظ مولوی حمدالله مدقق قضائی ریاست تدقیق و مطالعات و حافظ نصیراحمد رئیس ارتقاء ظرفیت و ارزیابی اجراآت عازم ولایت تخار گردیده‌اند.

در این سفر ابتداءً مجلس تعارفی با مسؤولین و کارمندان ریاست محکمه مرافعه روی تشکیل، مشکلات و چالش‌های فرا راه محاکم آن ولایت صورت گرفت و هیئت متذکره وعده سپرد تا چالش‌ها و مشکلات فراراه محاکم تخار را به زودترین فرصت رفع نموده و به مشکلات و قضایای مردم و اهالی آن ولایت به صورت شفاف و در اسرع وقت رسیده گی صورت گیرد.

سپس ارزیابی کارهای اداری توسط حافظ نصیراحمد رئیس ارتقاء ظرفیت و ارزیابی اجراآت در موارد چون صادره، وارده، اندراج، جلب، پارچه ابلاغ، پیشنهاد و مکتوب صورت گرفت و همچنان در موارد فوق تغیرات اصولی که از قبل صورت گرفته بود، با طریقه تشریح استفاده آن برای کارمندان مسؤول داده شد تا روند کارهای اداری شان را در اسرع وقت صورت گیرد.

**در ولایت کندز:**

به ادامه سفر؛ هیئت فوق به تاریخ ۱۴۴۴/۲/۱۲ هـ ق عازم ولایت کندز گردید و در این ولایت به رهبری محترم مفتی حزب الله «ابراهیمی» و همراهان شان با مسؤولین وکارکنان ریاست های مرافعه و شهری کندز جلسه و نشست صورت گرفت.

در این مجلس روی تشکیل و مشکلات موجوده در محاکم آن ولایت بحث و تبادل نظر صورت گرفت و بعد از آن اطمینان داده شد که مشکلات شان در اسرع وقت برطرف میگردد.

سپس از محکمهٔ ابتدائیه نظامی زون شمال شرق دیدن به عمل آمد که در این دیدار از کارکردهای محکمه نظامی در زون شمال شرق ستایش و قدردانی صورت گرفت و برای پیشبرد بهتر امورات توصیه‌های لازم را ارائه نمودند.

در ادامه، ارزیابی امورات اداری توسط حافظ نصیر احمد رئیس ارتقاء ظرفیت، صورت گرفت و موادهای لازم که توسط آن ریاست ترتیب گردیده بود برای شان تسلیم داده شد تا در امورات اداری از آن به صورت حرفه‌ای و در اسرع وقت کار گرفته شود.

**در ولایت بلخ:**

در ادامه سفر به تاریخ ۱۴۴۴/۲/۱۳ هـ ق هیئت مذکور عازم ولایت بلخ گردید.

در نخست مجلسی تحت ریاست محترم مفتی حزب الله «ابراهیمی» رئیس عمومی تدقیق و مطالعات ستره محکمه در حضورداشت محترم مولوی محمد یوسف (ابوالوفاء) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه ولایت بلخ دایر گردید و آجنداء مجلس روی تقاضا و حل مشکلات مردم در آن ولایت بود. رئیس و اعضای هیئت متذکره وعده سپرد تا به زود ترین فرصت مشکلات محاکم ولایت بلخ حل گردد.

همچنان هیئت متذکر در این سفر با مولوی قدرت الله (ابوحمزه) والی ولایت بلخ نیز دیدار کرد و روی ارتباط کاری محاکم با سایر ارگان های ذیربط بحث صورت گرفت.

**در ولایت جوزجان:**

در ادامه سفر؛ هیئت متذکره به تاریخ ۱۴۴۴/۲/۱۴ هـ ق عازم ولایت جوزجان گردید؛ در این سفر نخست با مفتی عبدالوهاب «زاهد» رئیس محکمهٔ مرافعه ولایت جوزجان، مولوی عبدالمجید رئیس محکمه شهری و رؤسای دیوان های مرافعه و شهری دیدار صورت گرفت و مسؤولین محاکم جوزجان نظریات و مشکلات شان را درجریان گذاشت.

هیئت مذکور وعده سپرد که مشکلات را در اسرع وقت رفع می نماید تا حل و فصل قضایای مردم به‌گونه شفاف و در اسرع وقت صورت گیرد.

همچنان ارزیابی امورات اداری توسط حافظ نصیراحمد رئیس ارتقاء ظرفیت و ارزیابی اجراآت صورت گرفت و از جمله موادهای چون رهنمود مراسلات اداری، رهنمود کتاب های صادره و وارده، دفتر صادره، دفتر وارده، عریضه، پارچه ابلاغ، جلب و ورق فیصله که توسط ریاست محترم ارتقاء ظرفیت و ارزیابی اجراآت تهیه و در آن اصلاحات آورده‌اند به دسترس آنها قرارگرفت.

در این سفر نیز جلسه ای با الحاج داملا شعیب والی جوزجان صورت گرفت تا ارتباط میان محاکم و اداره محلی آن ولایت مستحکم گردد.

**در ولایت سرپل:**

در ادامه سفر به تاریخ ۱۴۴۴/۲/۱۵ هـ ق محترم مفتی حزب الله (ابراهیمی) رئیس عمومی تدقیق و مطالعات ستره محکمه وهیئت همراهش عازم ولایت سرپل گردید.

در نخست با مولوی یارمحمد رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه، مولوی خیرمحمد رئیس محکمهٔ شهری و رؤسای دیوان های مرافعه و شهری دیدار صورت گرفت.

در این دیدار نظریات، پیشنهادات و مشکلات آنها را به صورت جدی تحت غور و بررسی قراردادند تا در زودترین وقت مشکلات موجوده در محاکم در ولایت سرپل مرفوع گردد تا رضایت اهالی و ساکنان آن ولایت حاصل گردد. و به منظور بهترشدن امورات اداری توسط حافظ نصیراحمد رئیس ارتقاء ظرفیت و ارزیابی، ارزیابی اجراآت صورت گرفت و موادهای لازم را در دسترس شان قرارداد.

همچنان از تعداد ۴۰ تن متقاضیان بست‌های قضائی در آن ولایت در مسلک قضاء امتحان اخذ گردید تا کاربه اهل آن سپرده شود.

**در ولایت فاریاب:**

به ادامه سفر به تاریخ ۱۴۴۴/۴/۱۷ هـ ق هیئت فوق عازم ولایت فاریاب گردید ابتداءً جلسه ای تحت ریاست محترم مفتی حزب الله (ابراهیمی) رئیس عمومی تدقیق و مطالعات ستره محکمه و هیئت همراهش با اشتراک مولوی عبدالغنی «سعید» رئیس عمومی مرافعه ولایت فاریاب، مولوی غلام علی رئیس محکمه شهری و رؤسای دواوین مرافعه و شهری برگزار گردید.

در این جلسه روی مشکلات موجوده در محاکم آن ولایت بحث صورت گرفت که در اخیر نشست هیئت متذکره وعده سپرد تا مشکلات و چالش‌ها را به اسرع وقت مرفوع نموده تا رضایت مردم جلب گردد؛ سپس توسط حافظ نصیر احمد، ارزیابی موارد اداری صورت گرفت؛ بعداً آنعده از علمای کرام که برای بست‌های قضائی آن ولایت ثبت نام نموده بودند امتحان اخذ گردید.

**در ولایت سمنگان:**

به ادامه سفر های چند روزه هیئت ستره محکمه به تاریخ ۱۴۴۴/۲/۱۸ هـ ق عازم ولایت سمنگان گردید؛ در نخست نشست به رهبری محترم مفتی حزب الله (ابراهیمی) وهیئت همراهش با مولوی سعدالدین (سعید) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعه ولایت سمنگان برگزار گردید در این نشست بحث روی تشکیل و چالش‌ها صورت گرفت.

محترم مفتی حزب الله (ابراهیمی) تعهد نمود که دراسرع وقت مشکلات و چالش ها را رفع می نمایند. همچنان ارزیابی امورات اداری توسط حافظ نصیر احمد رئیس ارتقاء ظرفیت و ارزیابی اجراآت صورت گرفت و موادهای لازم را در دسترس آنها قرارداد.

**در ولایت بغلان:**

در ادامه سفر هیئت فوق به تاریخ ۱۴۴۴/۲/۱۹ هـ ق عازم ولایت بغلان گردید. ابتداء جلسهٔ تحت ریاست محترم مفتی حزب الله (ابراهیمی) با اشتراک مولوی موسی کلیم «عاصم» رئیس عمومی محکمه مرافعه ولایت بغلان برگزار گردید.

در این جلسه روی نظریات، پیشنهادات و مشکلات محاکم آن ولایت بحث صورت گرفت و هئیت متذکره تعهد نمودکه به زودترین فرصت مشکلات و پیشنهادات آنها را مرفوع می نمایند تاکار به صورت شفاف و در اسرع وقت انجام شود.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

به معلومات وغواړي چې د دغه فیصلې غیر قانع جانب تجدیدنظر غوښتی دی او کنه؟

کله چې د معلوماتو په نتیجه کې معلومه شي چې غیر قانع جانب تجدیدنظر نه دی غوښتی، نو د فیصلې اجراء دې وکړي.

او که معلومه شوه چې غیر قانع جانب تجدید نظر غوښتی دی، نو په دې صورت کې دې د فیصلې اجراء د تجدید نظر تر نهائي کیدو پورې معطل شي.

د تیرې اداري په نهائي فیصلو کې تجدیدنظر غوښتونکی کس، کله چې تجدید نظر وغوښتی د تجدید نظر د رد، تائید معلومیدلو پورې دې تطبیق معطل شي.))

بناءً د پورته ذکر شوي مجلس د یوولسمې موضوع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فیصله د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۲**

**نېټه: ۱۴۴۴/۲/۱ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي دیوانونو د محترمو رئیسانو او د مرکزي قضائي ریاستونو د رئیسانو صاحبانو په ګډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې دولسمې نېټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصویب نمبر (۳)مورخ ۱۴۴۴/۱/۵ هـ ق په توسط د بعضې موضوعاتو په باره کې پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شي، په همدغه اساس یاد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شوه چې په هغه کې د اتمې موضوع د دوهم جزء پّه اساس د مشرتابه محترم عالي مقام داسې یادونه وکړه:

((یادونه: قاضیان صاحبان دې هره کاري ورځ، څومره کسان چې خلاصولای شي په هغه اندازه خلک دې راغواړي تر څو د خلکو د بې ځایه تکلیف مخنیوی وشي.))

بناءً د پورته ذکر شوي مجلس د اتمې فیصلې یادونه د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۳**

**نېټه: ۱۴۴۴/۲/۲ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د سترې محکمې د دارالانشاء ریاست د متحدالمآل نمبر(۱۵)مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۲ هـ ق په تعقیب لیکو:

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۹ هـ ق کې د تصویب نمبر(۵۷) په اساس داسې هدایت وکړ:

((د تېرې اداري نهائي شوې غیر تطبیق شده فیصلو لپاره د طرزالعمل جوړولو موضوع، د سترې محکمې د مرکزي تمیز د رئیس محترم شیخ محمد شریف حقاني صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د دیوانونو رئیسانو صاحبانو ته وسپارل شوه تر څو د درې ورځو په موده کې، د تېرې اداري نهائي شوې غیر تطبیق شده فیصلو لپاره طرزالعمل جوړ کړي او د سترې محکمې مقام ته دې وړاندې کړي تر هغه وروسته به د عالي شورا په مجلس کې بحث پرې وشي او تر اصلاح او تائید وروسته به د مشرتابه محترم مقام ته واستول شي .))

د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي هدایت مطابق، د مرکزي تمیز عالي ریاست محترم رئیس صاحب په مشرۍ د مرکزي دیوانونو د رئیسانو صاحبانو په اشتراک (د هغه فیصلو لپاره چې پخوانۍ اداره کې نهائي یا قطعي شوې وې، لیکن تطبیق شوې نه وي) په (۱۲) مادو کې طرزالعمل جوړ کړ چې سلسلتاً د مشرتابه محترم مقام ته وړاندې شو، د مشرتابه محترم مقام، د مرکزي تمیز عالي ریاست ترتیب شوی طرزالعمل په تاریخ /ذوالحجة الحرام/۱۴۴۳ هـ ق د یو لړ اصلاحاتو څخه وروسته تصویب کړی او د صادره نمبر(۸۰۱ج۱) مورخ ۱۴۴۳/۱۲/۵ هـ ق په توسط یې د سترې محکمې مقام ته را استولی دی.

بناءً د ځانګړې محکمې (۱۲) دولس مادئیز کاري طرزالعمل (د هغه فیصلو لپاره چې پخوانۍ اداره کې نهائي یا قطعي شوې وې، لیکن تطبیق شوې نه وي) د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام تر تائید وروسته د سترې محکمې د عالي مقام د هدایت په اساس، د دې متحدالمآل مل په (۲) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت ټولو تمیزونو ، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

**د متحدالمآل ګڼه: ۱۴**

**نېټه: ۱۴۴۴/۲/۴ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

د سترې محکمې محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب، د استیناف او شهري محکمو رئیسانو صاحبانو ته د سیمینار په اختتامیه وینا کې تفصیلي او هر اړخیزه هدایات وکړل چې خلاصه یې په لاندې ډول ده:

۱ ــ ((ابتدائیه محاکم دې خپل استهداآت پیشنهادونه په تحریري ډول د خپلې مرافعې د لارې سترې محکمې مقام ته را استوي. هغه کارونه چې مرافعه محکمه یې کولای شي او صلاحیت یې ولري هغه کارونه دې وکړي او کوم کارونه چې مرافعه محکمې نشو کولای هغه دې د سترې محکمې مقام ته تحریري را واستوي. همدارنګه د زونو نظامي محاکم او مرافعه محاکم دې خپل استهداآت پیشنهادونه د سترې محکمې مقام ته تحریري را استوي.))

۲ ــ کومې فیصلې چې په ابتدائیه یا مرافعه کې قطعي شي هغه فیصلې دي خپل مربوطه تمیز عالي ریاست ته تر تطبیق مخکې را استوي تر هغه وروسته به تمیز د اجراء امر ورکوي او فیصله به په ارشیف کې حفظ کړي.

۳ ــ د فیصلو د تطبیق امر د تمیز لخوا ورکول کیږي او د تمیز عالي ریاست په خپل مکتوب کې د هغه مرجع تعین کوي چې فیصله د تطبیق لپاره ورته استوي او په دغه ترتیب کې چې کوم ځنډ مخ ته راځي د هغه د مخنیوي لپاره پر حل لاره غور کوو.

۴ ــ اکثره محاکم اجراآت په ډېر ځنډ سره کوي مثلاً : د دارالانشاء عمومي ریاست په تاریخ ۱۴۴۳/۷/۱ هـ ق د ټلیګرام ګروپ فعال او د افغانستان اسلامي امارت ټولو محکمو ته یې لینک او هدایات واستول شوه تر څو په یاد ګروپ کې ټول قضائي کارکونکي شرکت وکړي، البته بیا هم تر اوسه پورې د دارالانشاء عمومي ریاست د ټلیګرام په ګروپ کې د قضایي کارکونکو د مجموعه شمیر څخه تر نیمائې زیات ملګرو ګډون نه دی کړی، همدارنګه د بندیانو لیستونه میاشت مخکې مور. غوښتي تر اوسه د ډېرو محکمو څخه مور. ته نه دي را استول شوي، نو هره محکمه دې خپل اجراآت پر وخت بېله ځنډه تر سره کړي.

۵ ـ قبالې دې د سترې محکمې دارالانشاء ریاست د متحدالمآل نمبر (۱۹) مورخ ۱۴۴۳/۱۲/۲۵ هـ ق مطابق شروع او اجراء شي.

۶ ــ د مثنی قبالې دې د سترې محکمې دارالانشاء ریاست متحدالمآل نمبر (۱) مورخ ۱۴۴۴/۱/۹ هـ ق مطابق ورکول کیږي.

۷ ـ وکالت خطونه دې د سترې محکمې دارالانشاء ریاست د متحدالمآل نمبر (۷) مورخ ۱۴۴۴/۱/۲۵ هـ ق مطابق اجراء شي.

۸ ــ د نکاح خطونو اجراء کول دې شروع شي هغه زاړه دې استعمال شي که شرعي مشکل نه وو.

۹ ــ هره محکمه دې خپله استدعاء په خپل وخت کې قید وارده کوي مرافعه طلب شخص چې کله مرافعې ته په خپل وخت کې استدعاء وړاندې کړه تاسو یې قید وارده کوئ خو د کارو د ډېر والي په وجه د بیا راتګ وخت ورته تعیین کوئ.))

پورته ذکر شوي وینا په تحریري ډول د سترې محکمې محترم عالي مقام ته پیشنهاد شوه، عالي مقام یې په اړه داسې هدایت وکړ:

((وکتل شو: ۱۴۴۴/۲/۲ هـ ق!

د سترې محکمې د عالي قضائي سیمینار اختتامیه وینا دې ټولو محکمو ته په متحدالمآل شکل واستول شي.))

بناءً د پورته ذکر شوي سیمینار د اختتامیه وینا په وخت کې یاد شوي موضوعات د سترې محکمې د محترم مقام د هدایت مطابق د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

پاتې برخه ۳

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

### د متحدالمآل ګڼه: ۱۵
### نېټه: ۱۴۴۴/۲/۶ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي دېوانونو د محترمو رئیسانو او د مرکزي قضائي ریاستونو د رئیسانو صاحبانو په ګډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې دولسمي نېټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصویب نمبر (۳)مورخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق په توسط د بعضې موضوعاتو په باره کې پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شي، په همدغه اساس یاد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شوه چې اوومه موضوع داسې وه:

((د تېرې ادارې په وخت کې به بانکونو، خلکو ته قرضونه ورکول او د قرض په بدل کې به یې تکتانه(سود) ورڅخه اخستی اوس دغه موضوعات محاکمو ته راځي په دې باره کې محاکم څرنګه وکړي؟))

په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام د اوومې فیصلې په اساس داسي هدایت وکړ: ((د تېرې ادارې په وخت د بانکونو لخوا خلکو ته په سود ورکړل شوي قرضونو په باره کې دې د موضوعاتو صورتونه په تفصیلي ډول ولیکل شي او د سترې محکمې د مقام تر کتنې وروسته دې د استفتاء په شکل دواړه دارالافتاوو ته د فتوی اخستلو په موخه واستول شي.))

بناءً د پورته ذکر شوي مجلس د اوومې موضوع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فیصله د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته د خبرتیا په موخه واستول شوه.

### د متحدالمآل ګڼه: ۱۶
### نېټه: ۱۴۴۴/۲/۷ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي دېوانونو د محترمو رئیسانو او د مرکزي قضائي ریاستونو د رئیسانو صاحبانو په ګډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې دولسمي نېټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصویب نمبر (۳)مورخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق په توسط د بعضې موضوعاتو په باره کې پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شي، په همدغه اساس یاد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شوه چې پنځمه موضوع داسي وه:

((د تېرې ادارې د چارواکو لخوا خلکو ته مواتي، مرعی او دولتي املاک ورکول شوي وي خلکو تصرفات پکښې کړي دي، دغه موضوعات چې محاکمو ته راشي، محاکم یې په اړه څرنګه اجراآت وکړي؟))

په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام د پنځمې فیصلې په اساس داسي هدایت وکړ: ((دغه موضوع دارالافتاء ریاست ته استول شوې ده کله چې راغله سترې محکمې ته به یې درواستوو، البته ستره محکمه دې هم د دارالافتاء ریاست څخه په دې موضوع کې استفتاء وکړي.

د نوموړي موضوع فتواوو صادرېدلو او توحید وروسته به د اسلامي امارت محترم عالي مقام په دې باره کې هدایت وکړي.))

بناءً د پورته ذکر شوي مجلس د پنځمې موضوع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فیصله د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دېوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته د خبرتیا په موخه واستول شوه.

### د متحدالمآل ګڼه: ۱۷
### نېټه: ۱۴۴۴/۲/۸ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ ، د سترې محکمې د عالي شورا محترمو اعضاؤو، د مرکزي دېوانونو رئیسانو صاحبانو او د مرکزي قضائي ریاستونو رئیسانو صاحبانو په ګډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۲هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې له نهمې نېټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د یاد مجلس اتمه موضوع داسې وه:

((که چېرې په محکمو کې د صادر شویو فیصلو جانبین د خپلې موضوع د فیصلې کاپي وغواړي، آیا د فیصلې کاپي ورکړل شي او که نه؟ په دې اړه ستاسو محترم عالي مقام څخه د هدایت غوښتونکي یو))

په اړه یې د سترې محکمې عالي شورا د مجلس مورخ ۱۴۴۴/۱/۲هـ ق د اتمې پرېکړې په اساس په لاندې ډول هدایت وکړ:

((ټولې محکمې دې د فیصلې اصل محکوم ته او د فیصلې یوه کاپي دې محکوم علیه ته ورکړي او یو نقل دې په محکمه کې وساتل شي، د دارالانشاء عمومي ریاست دې دغه هدایت و ټولو محکمو ته په متحدالمآل شکل واستوي.))

بناءً د پورته ذکر شوي مجلس د اتمې فیصلې هدایت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دېوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۱۸
### نېټه: ۱۴۴۴/۲/۹ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د سترې محکمې عالي شورا مجلس مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هـ ق ته، د دارالانشاء عمومي ریاست پیشنهاد وړاندې کړی و چې متن د پیشنهاد داسې دی:

وبعد: ځینو محکمو د متحدالمآل نمبر (۱) مورخ ۵/۲۹/ ۱٤٤۳ هـ ق د لومړي جزء (په کومو محکمو کې چې تجارتي دیوان موجود نه وي موضوعات یې د مدني دیوان مربوط دي) په باره کې پوښتنه کړې ده:

د متحدالمآل ددغه جزء څخه یواځې هغه تجارتي موضوعات چې د ولایت په مرکز کې وي مراد دي او که د ولسوالیو مربوطه ټول تجارتي موضوعات په دې قید کې شامل دي؟

خلاصه: دا چې هغه تجارتي دعوې چې د ولسوالیو په مربوطه قضائي ساحه کې پیښیږي د شرعي حل او فصل صلاحیت یې د ولسوالیو د محکمو سره دی او که د مرکز د شهري محکمې سره ؟

دارالانشاء ریاست د نوموړي موضوع جواب په لاندې توګه لیکلی دی:

((دا چې دیوانونه یواځې استیناف او شهري محاکم لري په نورو محکمو کې دیوانونه نشته نو که کوم استیناف یا شهري محکمه تجارتي دیوان نه لري د تجارتي دیوان موضوعات یې د مدني دیوان مربوط دي.

خلاصه دا چې د ولسوالیو محکمې دیوانونه نه لري نو ټول حقوقي او جزائي موضوعات چې ابتدائیه محکمې ته راځي نوموړي محکمه یې د شرعي حل او فصل صلاحیت په لاندې ترتیب سره لري:

ټولې حقوقي دعوې د مدعي علیه د استوګني د محل په ابتدائیه محکمه کې حل او فصل کیږي.

او جزائي دعوې د واقعې د پیښې د محل په ابتدائیه محکمه کې حل او فصل کیږي طبق ماده ۱۱ اداري اصولنامه.

البته: د پورته تفصیل څخه ځینې موضوعات مستثنی دي لکه: مدعی علیه نظامي کس وي.

یا موضوع تبدیل شوې وي.

یا جانبین په رضاء یوې محکمې ته ورغلي وي او داسې نور...؟

بناءً په ولسوالیو کې چې کله په تجارتي موضوعاتو کې مدعي د مدعي علیه د استوګني د محل ابتدائیه محکمې ته مراجعه وکړي نوموړي محکمه یې د شرعي حل او فصل کولو صلاحیت لري.))

پورته ذکر شوې استهداء ته د دارالانشاء ریاست ترتیب شوي جواب په باره کې، عالي شورا د تصویب نمبر (۳۹) مورخ ۱۴۴۳/۸/۵هـ ق په اساس داسې هدایت وکړ:

((د پورته استهداء تحریر شوی جواب سم دی دارالانشاء ریاست دې تمیزونو، دیوانونو او ټولو محاکمو ته په متحدالمآل شکل واستوي))

بناءً پورته ذکر شوې استهداء ته د دارالانشاء ریاست ترتیب شوي جواب، چې د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب په توسط تائید شوې، د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۱۹
### نېټه: ۱۴۴۴/۲/۱۰ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي دېوانونو د محترمو رئیسانو او د مرکزي قضائي ریاستونو د رئیسانو صاحبانو په ګډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې دولسمي نېټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصویب نمبر (۳) مورخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق په توسط د بعضې موضوعاتو په باره کې پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شي، په همدغه اساس یاد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شوه چې څلورمه موضوع داسې وه:

((په تېره اداره کې به د زوج او زوجې تر مینځ په مختلفو علتونو لکه: تعنت، نفقه نه ورکول، غیبوبت، اعتیاد مسکرات ، عیب ، بسبب ضرر).د محکمې لخوا د تفریق فیصله کېدل او ځینې بیا اوس د امارت د محاکمو څخه د مختلفو علتونو په وجه تفریق غواړي په دغه دواړو صورتونو (دتېرې اداري کړی تفریق، اوس غوښتونکی تفریق ) کې چې محاکم څرنګه طریقه اختیار کړي؟.))

په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام د څلورمې فیصلې په اساس داسې هدایت وکړ: ((د تفریق د موضوع اول صورت (چې په تیره اداره کې د زوج او زوجې تر مینځ په مختلفو علتونو تفریق واقع شوی وي) مسئله تر کار لاندې ده کله چې توحید او تائید سوه مشکل به حل شي او که توحید نه شوه بیا به تصمیم ونیسو.

د تفریق دوهم صورت: ( زوجه اوس تفریق غواړي) لپاره دي د حنفي مذهب موافق د تفریق اسباب ولیکل شي او د هر سبب لپاره دي جواب ولیکل شي تر هغه وروسته دې د مشرتابه محترم عالي مقام سره د هدایت اخیستلو په موخه شریک شي.))

بناءً د پورته ذکر شوي مجلس د څلورمې موضوع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فیصله د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دېوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته د خبرتیا لپاره واستول شوه.

پاتې برخه ٤

## د زابل ولایت د مرافعه محکمې رئیس د یاد ولایت له عمومي زندان څخه لیدنه وکړه

د روان ١٤٤٤هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ١٤ نېټه د زابل ولایت د مرافعه محکمې محترم رئیس شیخ نقیب الله (اخندزاده) او ورسره مل پلاوي چې په تشکیل کې یې د دغه ولایت د شهري محکمې محترم رئیس مولوي فضل الرحمن (فضلي)، د اتغر ولسوالۍ د ابتدایه محکمې محترم رئیس مولوي حکمت الله (منیر) او د تحریراتو محترم آمر حکمت الله (عاصم) شامل وو له بندیانو څخه د نظارت او احوال اخیستلو په هدف د زابل ولایت له عمومي زندان څخه لیدنه وکړه.

په یاده لیدنه کې د محبس له مسؤولینو سره د بندیانو د ستونزو او مشکلاتو په باره کې بحث وشو، ورپسې له بندیانو او د هغوی د اوسېدو له ځایونو څخه له نږدې لیدنه وشوه، له بندیانو څخه د خوړو ، درملنې او له دوی سره د محبس د مسؤولینو د چلند په اړه پوښتنې وشوې، ټولو بندیانو د محبس له مسؤولینو او د هغوی له چلند څخه خوښي وښوده، یادو بندیانو وویل چې موږ ته هر وخت مناسبه غذا او د اړتیا پر مهال د درملنې لپاره درمل راکول کیږي، ټول لمونځونه مو په جماعت سره ترسره کیږي؛ د اوس مهال لپاره کومه ستونزه نه لرو.

د مرافعه محکمې محترم رئیس بندیانو ته اطمینان ورکړ چې موږ به ان شاءالله وخت پر وخت ستاسو د نظارت او لیدو لپاره راځو، که مو کومې ستونزې او مشکلات لرل موږ ته به یې وایاست موږ به یې له ځان سره د حل په موخه یاداشت کوو ترڅو رامنځته شوې ستونزې پر وخت او زمان حل شي.

دیادولو وړ ده چې د زابل ولایت په عمومي محبس کې ټول ١٦٣ زندانیان موجود دي، له دې ډلې څخه ١٣٤ تنه نارینه،١٧ محجوزین او ١٢ تنه زنانه بندیان دي.

## جلسهٔ اداری ریاست عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت پنجشیر

یوم دوشنبه مورخ١٤٤٤/٢/١ هـ ق جلسهٔ اداری تحت ریاست مولوی عبدالله (سدید) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت پنجشیر باحضور داشت قضات وکارمندان اداری محکمهٔ مرافعه و محکمهٔ ابتدائیه شهری در دفتر کاری مقام ریاست تدویر یافت .

ابتداء جلسه با تلاوت آیات از کلام الله مجید توسط قاری گل رحمن (وقار) مدیر مالی و اداری محکمهٔ مرافعه آغاز شد؛ بعداً رئیس محکمهٔ مرافعه ضمن خوش آمد گویی به اعضای جلسه آرزوی صحتمندی نیز نمود و سپس روی موارد ذیل طبق اجندا ء تصامیم اتخاذ گردید.

- در قسمت فعالیت اجراآت امور مالی جهت استفاده مؤثر به موقع بحث و تبادل نظر صورت گرفت که در رابطه توضیحات لازم از طرف مسئول مالی ارائیه گردید.
- هئیتی که قبلاً جهت بازدید از مظنونین و متهمین به ولسوالی پریان توظیف گردیده بود درجلسه از کارکرد به منظور تعین سرنوشت دوسیه‌جات حکومت قبلی هئیت از طرف مقام ریاست محکمهٔ مرافعه تعین و بعد از بررسی که به چه تعداد دوسیه در مرحله ابتدائیه و به چه تعداد دوسیه در مرحله استیناف تحت دوران بوده گزارش مفصل خویش را در جلسه بعدی ارائیه بدارند.
- درقسمت رعایت بهترنظافت درتعمیر اداری محکمه هدایات لازم داده شد که طبق هدایت منسوبین خدماتی اجراآت به عمل آورند .
- در اخیر رئیس محکمهٔ مرافعه هدایات لازم مانند هماهنگی بین واحدهای اداری محکمه، بی‌طرفی در اجراآت ، عدم مداخله در وظایف همدیگر ، حسن برخورد با مراجعین، پیشبرد وظیفه مبتنی برلوایح کاری و پابندی به وظیفه داد؛ متعاقباً جلسه با دعائیه خیر و فلاح مردم افغانستان خاتمه یافت.

سرپرست مسوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

### د متحدالمآل ګڼه: ۲۰
**نېټه: ۱۴۴۴/۲/۱۱ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي دېوانونو د محترمو رئیسانو او د مرکزي قضائي ریاستونو د رئیسانو صاحبانو په ګډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې دولسمې نیټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصویب نمبر (۳)مورخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق په توسط د بعضې موضوعاتو په باره کې پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شي، په همدغه اساس یاد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شوه چې نهمه موضوع داسې وه:

((دافغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام لخوا، که تر اولي تقرری وروسته د قضائي کارکوونکو د عزل او نصب اختیار د سترې محکمې مقام ته ورکړل شي یو اندازه به د کارونو د ځنډ مخنیوی وشي.))

په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام د نهمي فیصلې په اساس داسې هدایت وکړ: ((د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د ابتدائیه محکمو په قضائي بستونو کې تر اولي تقرری وروسته، په ابتدائیه محکمو کې د قاضیانو د عزل، نصب او تبدیل صلاحیت د مصلحت مطابق تر یوه کال پورې د سترې محکمې محترم مقام سره دی. ستره محکمه دې په ابتدائیه محکمو کې د قضاتو د عزل نصب او تبدیل لپستونه د معلوماتو لپاره د مشرتابه محترم مقام ته را استوي.))

بناءً د پورته ذکر شوي مجلس د نهمي موضوع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فیصله د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو، دېوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته د خبرتیا لپاره واستول شوه.

### د متحدالمآل ګڼه: ۲۱
**نېټه: ۱۴۴۴/۲/۱۳ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي دېوانونو د محترمو رئیسانو او د مرکزي قضائي ریاستونو د رئیسانو صاحبانو په ګډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې دولسمې نیټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصویب نمبر (۳)مورخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق په توسط د بعضې موضوعاتو په باره کې پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شي، په همدغه اساس یاد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شوه چې څوارلسمه موضوع داسې وه:

((د حقوقو او څارنوالۍ موضوع چې په مجلس مورخ ۱۴۴۳/۷/۲۶هـ ق د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریکه شوې وه او داسې هدایت شوی وو چې (د حقوقو او څارنوالۍ موضوع علماء کرامو ته استول شوې ده په دغه باره کې فیصله به د علماء کرامو د نظرونو تر راتګ وروسته وکړو...) اوس د هغه موضوع په اړه د مشرتابه محترم عالي مقام څخه د هدایت غوښتونکي یو.))

په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام د څوارلسمې فیصلې په اساس داسې هدایت وکړ: ((د حقوقو او څارنوالۍ لپاره به موږ لائحه ترتیب کړو مشکل به ورسره حل شي.))

بناءً د پورته ذکر شوي مجلس د څوارلسمې موضوع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام فیصله د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو دېوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته د خبرتیا لپاره واستول شوه.

### د متحدالمآل ګڼه: ۲۲
**نېټه: ۱۴۴۴/۲/۱۴ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي دېوانونو د محترمو رئیسانو او د مرکزي قضائي ریاستونو د رئیسانو صاحبانو په ګډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې دولسمې نیټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصویب نمبر (۳)مورخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق په توسط د بعضې موضوعاتو په باره کې پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شي، په همدغه اساس یاد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شوه چې اتمه موضوع داسې وه:

((په ځینې محاکمو کې کاري حجم تر حد زیات شوی دی او د بررسۍ په نتیجه کې داسې ښکاري چې د موجوده دوسیو حل او فصل کول کلونه وخت نیسي، نو په دې اساس په محاکمو کې د کاري حجم د کموالي لپاره، که چیرې د مشرتابه محترم مقام لخوا د استخلاف اجازه د سترې محکمې مقام ته وشي په دې سره به کاري حجم یو څه راکم سي.))

په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام د اتمې فیصلې د لومړي جزء په اساس داسې هدایت وکړ: ((د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام لخوا و سترې محکمې ته د استخلاف داسې اجازه ورکړل شوه: ((ستره محکمه، د ټولو ولایتونو په محاکمو کې د کاري حجم د کموالي لپاره، څرنګه چې لازم بولي اقدام او اجراآت دې وکړي.))

بناءً د پورته ذکر شوي مجلس د اتمې موضوع په اړه د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د فیصلې لومړی جزء د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو، دېوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته د خبرتیا لپاره واستول شوه.

### د متحدالمآل ګڼه: ۲۳
**نېټه: ۱۴۴۴/۲/۱۵ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د محترم رئیس الشیخ عبدالحکیم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د محترمو اعضاؤو، د مرکزي دېوانونو د محترمو رئیسانو او د مرکزي قضائي ریاستونو د رئیسانو صاحبانو په ګډون په تاریخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمریز کال د اسد میاشتې دولسمې نیټې سره سمون خوري، غونډه دائره شوه چې د تصویب نمبر (۳)مورخ ۱۴۴۴/۱/۵هـ ق په توسط د بعضې موضوعاتو په باره کې پرېکړه وشوه تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شي، په همدغه اساس یاد موضوعات د مشرتابه محترم عالي مقام سره شریک شوه چې شپږمه موضوع داسې وه:

((د تېرې اداري په وخت کې د (امن خونې) په نامه یو ځای جوړ شوی و چې ښځې به د کورني تاوتریخوالي او یا نورو علتونو په وجه د کور څخه د فرار په وخت کې دغه خونې ته استول کېدې چې اوس بې سرنوشته پاتې دي، په دې باره کې چې څنګه وشي؟))

په اړه یې د مشرتابه محترم عالي مقام د شپږمې فیصلې په اساس داسې هدایت وکړ: ((د دغه بې سرنوشته ښځو چې د (امن خونه) کې ناستې دي، موضوع د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء معاون محترم الحاج ملا عبدالغني برادر آخند ته وړاندې کړئ هغوی به د دغه بې سرنوشته ښځو موضوع ور حل کړي.))

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام پورته ذکر شوې فیصله د مکتوب نمبر (۱۸۲) مورخ ۱۴۴۴/۱/۲۷هـ ق په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء محترم عالي مقام ته وړاندې شوې ده چې ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت تمیزونو، دېوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته د خبرتیا لپاره واستول شوه.

## د سترې محکمې د مسؤولینو ترمنځ اداري ناسته ترسره شوه

د سترې محکمې د اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) حفظه الله په مشرۍ په ۱۴۴۴/۲/۲۲ هـ ق نېټه د سترې محکمې د اداري چارو د لا ډېر بهبود او په چارو کې د شفافیت رامنځته کولو په موخه اداري ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د اداري معاونیت په دفتر کې ترسره شوه د سترې محکمې د مقام د دفتر رئیس، د استخدام رئیس، د مالي چارو رئیس، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو سرپرست رئیس، د بشري سرچینو سرپرست رئیس، د سترې محکمې د محافظتي قطعې عمومي قوماندان او نورو اړوند مسوولینو ګډون درلود.

یاده اداري ناسته د سترې محکمې د اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) حفظه الله په تفصیلي خبرو پیل شوه، ورپسې د غونډې د ترتیب شوي اجنډا مطابق په لاندې موضوعاتو خبرې وشوې:

- په عمومي ډول د سترې محکمې د امنیت ټینګښت.
- د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو او ولایتي مرافعه محاکمو له لوري په ټاکلي وخت د قضائي او اداري راپورونو را لېږل.
- په حقوقي او جزائي برخو کې د محاکمو د دېوانونو لخوا د قضایاوو د ثبت سیستم د فورمو نه لېږل.
- د محاکمو اړوند مسؤولینو ته د نقلیه وسایلو د کارتونو جوړول او توزیع.
- د ټولو مرکزي ریاستونو لخوا باید د نشر مطالب په ټاکلي وخت له بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست سره شریک شي.
- د فواید عامه بلاکونو تر شا پارکېنګ چې اوس مهال له سترې محکمې سره دی.
- د ولایتي مرافعه محاکمو له ریاستونو سره د مستوفیتونو همکاري او ځینې نور مهم موارد.

د یادو مواردو په تړاو د ناستې د ټولو ګډونوالو تر خبرو او وړاندیزونو وروسته د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) هر اړخیزې خبرې او د موضوعاتو اړوند هدایات شریک کړل.

ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې د عالي شورا د ۱٤٤٤/١/٣٠ هـ ق نېټې د دریمې پرېکړې د دریم جز مطابق د ټاکل شوي پلاوي د سفر راپور

د هغه فیصلو لپاره چې پخوانی اداره کې نهائي یا قطعي شوې وي؛ خو تطبیق شوې نه وي، طرزالعمل ترتیب او د مشرتابه محترم عالي مقام د ذوالحجة الحرام ١٤٤٣هـ ق نېټې د حکم په اساس تائید شو، چې لومړۍ ماده یې داسې صراحت لري: ((د نوموړې محکمې لپاره دې په ولایت کې د دارالافتاء په مرکز کې کاري دفتر برابر شي، او په کوم ولایت کې چې دارالافتاء نه وي په هغه ولایت کې دې د فقهي مجلس مشر د قاضي په حیث او یو بل تن دې د مفتي او محرر په حیث وټاکل شي او په ولایت کې دې کاري دفتر ورته جوړشي، هغه وسایل چې په کاري دفتر کې ورته ضرورت وي دې د سترې محکمې لخوا ورته برابر شي، د هغو متفرقه مصارف دې د سترې محکمې لخوا ورکول شي، البته نوموړي کسان دې د منظورۍ لپاره د مشرتابه مقام ته پیشنهاد شي)).

د پورته هدایت د تعمیل په موخه د سترې محکمې عالي شورا د ١٤٤٤/١/٣٠ هـ ق نېټې ناسته کې د دریمې پرېکړې د دریم جزء په اساس داسې هدایت وکړ: ((د سترې محکمې د مرکزي تمیز عالي ریاست رئیس محترم شیخ محمد شریف (حقاني) صاحب او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس محترم مفتي عبدالرشید (سعید) صاحب به بغلان، کندوز، تخار او بدخشان ولایتونو ته سفر وکړي او په هر ولایت کې دې دوه تنه علماء کرام د تیرې اداري د نهایي او قطعي شوو فیصلو د کتلو لپاره تعین کړي، د ځای تعین به ورته وکړي او د کارطرزالعمل به ورکړي.))

په همدې اساس د سترې محکمې د مرکزي تمیز عالي ریاست رئیس محترم شیخ محمد شریف (حقاني) او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئیس محترم مفتي عبدالرشید (سعید) صاحب په ١٤٤٤/٢/٧ هـ ق نېټه بغلان، کندوز، تخار او بدخشان ولایتونو ته سفر وکړ. دغه پلاوي د یادو ولایتونو د استیناف رئیسانو سره وکتل او د دې ترڅنګ یې د بدخشان او تخار ولایتونو له والي صاحبانو سره هم ولیدل.

یاد پلاوي په پورته ذکر شوو ولایتونو کې د تیرې اداري د نهایي او قطعي ناتطبیق شوو فیصلو د بیا څېړلو لپاره د پورته هدایت مطابق علماء کرام وټاکل او د هرې محکمې لپاره یې په ولایت کې د استیناف په څنګ کې کاري دفتر ورته برابر کړ.

د یادونې وړ ده چې په ١٤٤٤/٢/١٣ هـ ق نېټه د یاد پلاوي غړي بېرته خپلو دندو ته راستانه شول او د یادو ولایتونو د تعین شوو علماوو نومونه یې له ځان سره راوړل، ترڅو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام ته د منظورۍ لپاره پیشنهاد شي.